1045 متر مکعب

دوعام

دکندهار ولایت ددامان ولسوالی د تور کوتل دساحی د تعمیراتی ډبرو پروتوکول د جامدو کانو ریاست او( شناوک ———
) تر منځ

په دغه پروتوکول کی د جامدو کانونو ریاست د خرڅونکی په صفت
)شرکت د مشتری په صفت.
د(  حکم شناوک ——— )افغانی له قراره چه جمله
۱ ـقراردادی مکلف دی چه د( 1045 )متر مکعبه تعمیراتی ډبری قیمت دفی متر مکعب مبلغ (۲۷)افغانی له قراره چه جمله
مبلغ( 28215 )افغانی کیږی د معدن د ساحی په شمول پیشکی د کانو ریاست په حساب افغانستان بانک ته تحویل کری.
۲ ـ قراردادی مکلف دی چه په حجم د( 1045 )متر مکعبه تعمیراتی ډبری د(۶۰)ورځو په موده کی استخراج او انتقال کری.
۳ ـ د لوڅونی ؛استخراج او انتقال مصارفات په قراردادی پوری اړه لری.
۴ ـدډبرو د استخراج او انتقال په جریان کی که کوم د معدنکاری داصولو او مقرراتو خلاف عمل تر سره شی مسولیت یی عام و
تام د قراردادی پر غاړه دی.
۵ ـ قراردادی نشی کولای چه خپل تسلیم شوی بلاک جمعا یا جزا کوم بل شرکت یا شخص ته حواله کری.
۶ ـ که چیری د پروتوکول په جریان کی غیر مترقبه حوادث چه دهغی پیشبینی دانسان د ذهن څخه خارج وی لکه(جنګ ـحریق ـ
سیلاب ـ زلزله)او داسی نور پیښیږی قراردادی مکلف دی جه په (۴۸) ساعتو کی دکانو ریاست ته رسما اطلاع ورکری.
۷ ـمالیه ـصکوک او نور تادیاتی تکسونه د قراردادی پر غاړه دی.
۸ ـد کانو ریاست مکلفیت لری چه وخت پروخت د قرلردادی د استخراجی فعالیت څخه څارنه وکری او کوم نواقص چه پیدا کیږی
رهنمایی ورته وکری.
۹ ـقراردادی مکلف دی چه د خپلو کارګرانو لپاره صحی او ایمنی شرایط برابر کری.
۱۰ ـقراردادی مکلف دی چه د چاپیریال ساتنی شرایط مراعات کری.
۱۱- قراردادی نشی کولای چه بیله معقول عذره چه په قانون کی ذکر شوی وی د پروتوکول د معین معیادتر پوره کیدو تر دمخه
پروتوکول یو جانبه بسخ کری.
۱۲- که چیری د پرو توکول په جریان کی د مشتری د طرفه کوم ضرر امیزهاعمال او فاحش غبن صورت ونیسی چه ددولت منافع
ته ضرر ورسوی پدی صورت کی ددولت طرف کولای شی چه پروتوکول یو جانبه فسخ کری او مشتری د خساری په جبران
مکلف دی.
۱۳- پروتوکول په (۱۳) مادو کی ترتیب او د ولایت دمحترم مقام تر منظوری وروسته داعتبار وړ دی.

- د پروتوکول د اعتبار موده ـ ۹۳/۹/۱۰ — ۱۳۹۳/۱۱/۹.

په درنښت

د کانو د رییس امضاء

د ولایت دمحترم مقام ملاحظه شد

دقراردادی امضا

شناوک